مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د لړم شپږمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۸مه | ٤٥۲مه ګڼه

## هېواد

۴ مخ

### فليپين

په دغه هېواد کې خدماتي سکتور ښه وده کړې ده، د کرنې حاصلات ښه دي او د صادراتي مالونو په کيفيت کې مثبت بدلونونه راغلي دي.



# د لومړنيو پايلو د اعلان ځنډېدل؛

## ټاکنيز ټيمونه: د پايلو په اعلان کې ځنډ ناندريو او فساد ته زمينه برابروي



۳

### د ټاکنو د لومړنيو پايلو ځنډ، لاملونه او اغېزې

۲ مخ

### د امريکا- طالبانو خبرې او په نړيواله سطحه د سولې هڅو ته کتنه

۲ مخ

### د ترکيې او کُردانو شخړه او پر افغانستان يې اغېز

۳ مخ

## مسوولين: په تېرو ۱۰ ورځو کې له ۳۰۰ ټنو زيات جلغوزي چين ته صادر شوي




د سوداګرۍ او صنايعو خونه وايي، په تېرو ۱۰ ورځو کې له دريو سوو ټنو زيات جلغوزي چين ته صادر شوي دي.
د دې خونې د پراختيا رييس مير زمان پوپل پرون ازادي راډيو ته وويل، اوس د يوې کيلو جلغوزيو بيه د افغانستان په بازارونو کې ۲۵۰۰ افغانۍ او په نړيوالو بازارونو کې ۳۰ ډالر ده.
د ښاغلي مير زمان په خبره، چين ته د جلغوزيو صادرات له دې هېواد سره د هوايي دهلېز تر پرانيستې وروسته ښه شوي دي.
په ورته وخت کې د سوداګرۍ او صنايعو خونې چارواکي وايي، چې د جلغوزيو بازار په هند، عربي متحده اماراتو او ځينو اروپايي هېوادونو کې هم د پام وړ ښه دی.
دوی وايي، که حکومت د دوی محصولاتو ته په وخت بازارونه پيدا کړي، د دوی اقتصادي ستونزې به تر ډېره ورسره راکمې شي.

## مشرانو جرګه: د سولې خبرو په اجنډا کې اوربند بايد لومړيتوب وي

مشرانو جرګې د سولې په تړاو په سيمه ييزه او نړيواله کچه له پيل شوو هلو ځلو څخه ملاتړ څرګند کړی دی.
د مشرانو جرګې غړو ويلي، سوله د افغانانو اړتيا او غوښتنه ده، خو افغان حکومت او خلک بايد د سولې پروسې له ټولو جزياتو او پرمختګونو څخه خبر اوسي. دوی دغه راز د سولې د مذاکراتو په اجنډا کې د جګړې د بندېدو او اوربند پر شاملېدو ټينګار کړی دی. د مشرانو جرګې غړي عبدالله قرلق ويلي: «د افغانستان خلک او سياسيون له خليلزاد څخه غواړي چې د سولې په تړاو په راتلونکو ناستو کې بايد د جګړې د پای ته رسولو لپاره پر اوربند ټينګار وکړي او اوربند بايد د هر ډول خبرو په پيل کې مطرح شي».
که څه هم د ټاکنو کمېسيون د لومړنيو پايلو د اعلان تاريخ د عقرب ۲۳مه اعلان کړی، خو مشرانو جرګه د ټاکنو د پايلو په اعلان کې ځنډ د اندېښنې وړ بولي او وايي، څومره چې د ټاکنو پايلې ځنډېږي، هومره د خلکو پر ارادو معاملې تر سره کېږي. په ورته مهال سناتورانو دغه راز ويلي، په کابل کې د هدفي وژنو پېښې زياتې شوې دي، خو امنيتي بنسټونو يې د مخنيوي په برخه کې پرېکنده اجراآت نه دي کړي.
دوی ويلي، ځانګړي قطعات دې د پکتيا زرمت، ننګرهار کې د مرګونو شپنيو عملياتو او چاپو پر ځای، په پلازمېنې کابل کې د ځنځيري هدفي وژنو مخه ونيسي. مشرانو جرګه په داسې حال کې د سولې په پروسه کې پر اوربند او د جګړې پر کمېدو باندې ټينګار کوي، چې د افغان سولې په برخه کې د متحده ايالتونو ځانګړی استازی د مسکو له څلور اړخيزې ناستې وروسته، د سلا مشورو لپاره کابل ته راغلی دی.

## د افغان سولې لپاره د خليلزاد تازه سفر د خلکو هيلې بيا ژوندۍ کړې دي



۵ مخ

## ارگ: کوتاه ترين راه رسيدن به صلح مذاکرات مستقيم طالبان با حکومت است



ارگ ضمن تأکيد بر اينکه کوتاه ترين راه رسيدن به صلح مذاکرات مستقيم طالبان با حکومت است، گفت که تاکنون ليست هيئت حکومت افغانستان که قرار است در نشست بيجينگ شرکت کند، تکميل نشده است.
صديق صديقی سخنگوی رئيس جمهور، ديروز دريک نشست خبری در کابل گفت: «ما خواهان گفت‌وگوهای صلحی هستيم که رهبری آن در دست حکومت افغانستان باشد، تعهد جدی در حکومت برای آغاز گفت‌وگو با طالبان هميشه موجود بوده است و دروازه صلح باز می باشد». او افزوده است که رئيس جمهور برای رسيدن به يک صلح پايدار، کوتاه ترين راه را دنبال می کند و بايد طالبان از خشونت دست بکشند و آتش بس کنند و اين کوتاه‌ترين راه برای رسيدن به يک صلح پايدار است. وی افزود: «برای رئيس جمهور غنی صلح اولويت دارد؛ اما صلحی که پايدار باشد و منافع ملی ما در آن آسيب نبينند». موصوف با بيان اينکه حکومت افغانستان، نقشه راه برای تأمين صلح پايدار را تهيه کرده، اظهار اميدواری کرد تا اين نقشه راه صلح، از سوی جامعه جهانی حمايت گردد.
وی در پاسخ به سوالی در مورد نشست بيجينگ گفت: «ما ملاحظاتی نسبت به نشست بيجينگ داشتيم؛ اما توافق کرديم که اين نشست برگزار شود، تاکنون ليست هيئت حکومت افغانستان که قرار است در اين نشست شرکت کند، تشکيل نشده‌است». صديقی در ادامه صحبت هايش افزود که به زودی ليست اشتراک کننده گان حکومت افغانستان در نشست بيجينگ، با حکومت چين شريک می شود و اين هيئت مؤظف، توانايی نماينده گی از مردم را دارد.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life



دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

# د ټاکنو د لومړنیو پایلو ځنډ، لاملونه او اغېزې

د ټاکنو کمېسیون یو ځل بیا د ولسمشریزو ټاکنو پایلې ځنډولې دي. د کمېسیون چارواکو پرون په کابل کې یوې خبرې غونډې ته وویل، چې لومړنۍ پایلې به د لړم په ۲۳مه اعلانوي. په دې ډول دوی درېیم ځل د ټاکنو د لومړنیو پایلو د اعلان لپاره یوه نېټه اعلانوي. کمېسیون ټینګار کوي چې دا کار د سیاسي دلایلو نه، بلکې د تخنیکي دلایلو پر اساس کوي چې په وینا یې په دې سره به پاکې او ناپاکې رایې سره بېلې شي او رونتیا به رامنځ ته شي.

د ټاکنو د پایلو د اعلان ځنډ سیاسي دی او که تخنیکي؟ اصلي موخه څه ده؟

د ټاکنو کمېسیون لپاره د ټاکنو د لومړنیو پایلو د اعلان ځنډ یوه تخنیکي ستونزه ده، خو هغوی چې اصلي تصمیم نیوونکي دي، ټاکنې د سیاسي دلایلو له مخې ځنډوي. له دې امله چې په ټاکنو کې پراخې درغلۍ شوې دي، نو ستونزمنه ده چې پایلې ژر اعلان شي. له بله اړخه د ټاکنو کمېسیون یو لوی او مهم کار د دې کمېسیون له صلاحیت او ارادې وتلی دی. کمېسیون ته به اصلي او جعلي رایې، بایومټریک او غیر بایومټریک رایې، تر وخت مخکې، پر وخت او تر وخت وروسته رایې، تر قانوني سن د ښکته کسانو رایې، هغه رایې چې له عکس څخه عکس اخیستل شوی او دې ته ورته نورې لانجمنې رایې د درملوګ شرکت جلا کوي. پر دې اساس د ټاکنو کمېسیون اصلي، مهم او برخلیک ټاکونکی کار کمېسیون نه، بلکې یو بهرنی شرکت کوي. له همدې امله موږ وایو چې د ټاکنو کمېسیون لپاره د پایلو د اعلان ځنډ یوه تخنیکي ستونزه ده، ځکه دا کار دوی نه، بلکې یو بل ارګان کوي چې د کمېسیون تر کنټرول لاندې نه دی. اوس دا چې جرمنی درملوګ شرکت څه سیاسي، استخباراتي او پټې اړیکې لري، د چا تر سیوري او امر لاندې دی او څه کوي، په دې اړه څوک نه پوهېږي. کله چې زموږ د ټاکنو برخلیک او بالاخره زموږ د رایو په اړه وروستۍ پرېکړه یو بهرنی شرکت کوي او د هغه شرکت په اړه هم پراخ شکونه او ابهامات وي، نو دلته بیا د ټاکنو د پایلو د ځنډ لامل سیاسي ګڼل کېدای شي.

که له تخنیکي دلایلو تېر شو، د یوې منظمې هڅې له مخې لومړۍ د ټاکنو پایلې ځنډول کېږي. دا ښکاره ده چې ټاکنې دویم پړاو ته ځي. ځنډ یې هم د دې لپاره دی چې دویم پړاو ټاکنې سږ کال بیخي ناشونې دي او راتلونکي کال ته پاتې کېږي. له همدې امله د ټاکنو د پایلو ځنډ د رونټیا رامنځ ته کولو په نوم په وار وار اعلانیږي. پایلې به اعلان شي، خو دویم پړاو ټاکنو ته به اړتیا وي. دویم پړاو ټاکنې به د راتلونکي کال د ثور په وروستیو او یا هم د جوزا په لومړیو کې کېږي، چې په دې ډول دویم پړاو ټاکنې به شپږ – اووه میاشتې وروسته کېږي. د هغو ټاکنو د وروستیو پایلو اعلان به هم دوې – درې میاشتې وخت اخلي. په دې ډول به موږ اته – لس میاشتې په همدې ګډوډۍ او ستونزو کې وو او یو مسوول حکومت به ونه لرو. په دې زماني واټن کې به د سولې په ګډون، مهمې لوبې کېږي او دلته به یو داسې حکومت نه وي چې د افغانانو استازیتوب وکړي. له همدې امله د ټاکنو په پروسه کې ستونزې وې او د همدې لپاره یې پایلې ځنډول کېږي.

# د امریکا- طالبانو خبرې او په نړیواله سطحه د سولې هڅو ته کتنه

لیکوال: احمدشاه راشد- د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز څېړونکی

دویمه برخه

**له طالبانو سره د خبرو لغوه کېدو عوامل**

سخته برېښي چې د ټرمپ د وروستیو ټویټونو تر شا هغه رښتیني عوامل په نښه کړو، چې له کبله یې ده له افغان طالبانو سره د سولې خبرې اترې وځنډولې. خو بیا هم په دې تړاو ځینې عوامل شته، چې هم هیله ښونکي دي او هم هیله رژوونکي.

لومړی؛ د خبرو اترو له تمولو او ځنډولو څخه د سولې په خبرو اترو کې د فشار د آلې په توګه ګټه اخیستل. ټرمپ له دې وړاندې هم له شمالي کوریا سره د خبرو اترو پر مهال دغه تاکتیک غوره کړی و.

دویم؛ په امریکا کې د اوسني تړون پر ماهیت له زیاتېدونکو نیوکو څخه ځان خلاصون. په امریکا کې له وروستیو څو اونیو راهیسې له افغان طالبانو سره د سولې پر تړون ډېرې نیوکې کېږي. په دې اخرو کې کانګرېس زلمي خلیلزاد ته درېیم ځل لیک واستاوه او له نوموړي څخه یې له طالبانو سره د خبرو وضاحت وغوښت. کانګرېس وویل، که چېرې وضاحت ورنه کړل شو، نو دوی به بدیله لاره غوره کړي. همدارنګه په افغانستان کې د امریکایي سفیر لیک چې هغه غوښتنه کړې وه، چې د امریکایانو وتل باید د سولې له راتګه وروسته وي، نه د سولې له راتګه مخکې. په ټوله کې له ټرمپ سره د سي ای اې، دفاع وزارت، کانګرېس او ملي امنیت سلاکار جان بولټن چې ډېر ګومان کېږي د همدې موضوع پخاطر ټرمپ له ده غوښتنه وکړه، چې استعفا وکړي او له دندې ګوښه کړی شو، هغه مسایل دي چې امکان لري په دې خاطر ټرمپ له طالبانو سره خبرې لغوه کړې وي.

درېیم؛ دا هم له امکانه لرې نه ده چې ټرمپ خپل موقف یوځل بیا بدل او د سولې د مذاکراتو ځنډېدلی بهیر بیا پیل او عاجلې یې پایلې هم اعلان شي.

څلورم؛ داسې انګېرل کېږي چې طالبانو نه غوښتل چې له توافق څخه مخکې له ټرمپ سره وګوري او غوښتنه یې دا وه چې له توافق وروسته کېدای شي په درېیم ځای کې له ټرمپ سره وګوري.

پنځم؛ د توافق د ځای او وخت په اړه د دواړو لوریو مخالفت هم امکان لري چې د خبرو د لغوه کېدو سبب شوی وي.

**د امریکا-طالبانو د خبرو له لغوه کېدو وروسته د سولې هڅو ته کتنه**

طالبانو له امریکا سره تقریباً د یو کال په جریان کې نهه پړاوه خبرې وکړې، چې په نهم پړاو خبرو کې دواړه لوري نهایي توافق ته رسېدلي وو، خو د ځینو ستونزو له امله چې ډېره پړه یې پر امریکا ور اچول کېږي، خبرې بندې شوې. له هغه وخته چې خبرې بندې شوې دي، د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړو د سیمې هېوادونو ته خپل سفرونه کړي او له هغو هېوادونو سره د خبرو د بندېدو په اړه یې خبرې کړې دي. د دې سفرونو په لړ کې دوی ایران، روسیې، چین او پاکستان ته لاړل. یادو شویو هېوادونو ته چې دوی سفر وکړ، د هغو هېوادونو حکومتونو له دواړو لوریو د بیا خبرو د پیل کېدو او خشونت د کمېدو غوښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف چې د خپل هېواد په پارلمان کې یې خبرې کولې، د افغان سولې یادونه وکړه. ده زیاته کړه چې موږ په افغانستان کې بهرنۍ سوله د بهرنیانو په لاس نه غواړو او هېڅکله به ملاتړ هم تري ونه کړو. د یادولو وړ ده چې کله طالبانو پاکستان ته سفر وکړ، د هغه هېواد له مشرانو سره یې ولیدل او د افغان سولې لپاره د امریکا له استازي زلمي خلیلزاد سره یې هم ولیدل، خو د دې لیدنې ډېر جزیات یې شریک نه کړل. داسې انګېرل کېږي چې کومه د خبرو دروازه بنده شوې وه او له دې لیدنې سره بېرته پرانیستل شوه. اوس وینو چې د ټولو لوریو لخوا د سولې هڅې پیل شوې دي او دا یو ښه ګام دی، چې ټول اړخونه پکې برخه اخلي.

همدارنګه د امریکا له لوري د افغان سولې لپاره ټاکل شوي استازي زلمي خلیلزاد هم له تېرې اونۍ بیا ځل اروپایي هېوادونو ته خپل سفر پیل کړی. د اروپایي ټولنې له مشرتابه سره یې په لیدنه کې د افغان کشالې د حل په موخه، د خشونت پر کمېدو ټینګار کړی. همدا ډول د افغان سولې پروسې په اړه په روسیه کې د امریکا، چین او پاکستان ترمنځ څلور اړخیزه مشورتي غونډه کې یې ګډون کړی دی.

د یادولو وړ ده چې د اکتوبر په ۲۹مه او ۳۰مه د چین د خلکو جمهوریت په نوښت بین الافغاني ناسته جوړېږي، چې په دې ناسته کې تر اوسه د طالبانو د سیاسي دفتر غړو او افغان سیاسیونو چې مشري به یې پخوانی جمهور رییس حامد کرزی کوي، د ګډون خبره کړې او افغان حکومت هم ویلي چې په مناسب وخت کې به د هغو کسانو نوملړ چې په یاده غونډه کې ګډون کوي، له چین سره شریک کړي.

**اوربند**

اوربند په رښتیني مانا د سولې او خبرو اترو لومړۍ اړتیا ده. یوه نسبي اوږده اوربند ته رسېدل د دې مانا ده، چې دواړو جنګي طرفونو دا په رښتیا منلې چې جنګ د ستونزې حل له ځانه سره نه لري. ولې اوربند هغه څه دی چې ټول ملت یې له تېرو دوو لسیزو راهیسې لارې څاري. باور وکړئ چې د تېر کال د کوچني اختر درې ورځني اوربند د خلکو له کامه د اتلس کلن جنګ ترخه ډېرې ټیټې کچې ته راکوز کړل. اوربند ډېر سوچ غواړي، هومره موده ورته پکار ده چې حد اقل بین الافغاني خبرې اترې پکې د یوې نوې اوضاع، نوي بې طرفه حکومت، نوي موقت حکومت، نوي مشترک حکومت، یا هرې هغې ادارې چې د افغاني طرفونو د نوي سیاسي لفظ فیصلې پکې پای ته ورسیږي او د همدې نوې ادارې په لړ کې افغانان په خپل منځ کې پاتې اختلافي مسائل په حوصله بحث او هره اختلافي قضیه په یو متفقه یا اکثریتي حل ودروي.

د اوربند د وخت په پرتله د اوربند هغه موضوعات ضروري دي چې دا اوربند په کې اوربند پاتې شي او په پایله کې یې په افغانستان کې یوې تل پاتې سولې ته ورسیږو، ورځ تر بلې دخیل طرفونه په کې یو بل ته نږدې او د باورونو سلسله په خپلو کې د هغه مشترک بحث بستر کړي او په پایله کې افغانان نړۍ ته د یوې ښې ادارې، د یوه ښه ملت او د یوې ښې سولې امتحان ورکړي.

**تېر اوربند ته کتنه**

د ۱۳۹۷ لمریز کال د غبرګولي په میاشت کې افغان ولسمشر محمد اشرف غني د روژې له اووه ویشتمې څخه د اختر تر پنځمې نېټې پورې د یو اړخیز اوربند اعلان وکړ، چې وروسته د طالبانو لخوا هم د اختر په دریو ورځو کې د اوربند اعلان وشو. دا اوربند چې د افغانستان په اوږده جګړه کې لومړۍ تجربه وه، په ټول هېواد کې یې د امنیت یوه بې سارې فضا جوړه کړې وه او په ډېرو ځایونو کې وسلوالو طالبانو او دولتي ځواکونو سره ولیدل او یو ځای یې اختر ولمانځه. همدارنګه په سلګونو طالب جنګیالي کابل ته راغلل، له خلکو او حکومتي ځواکونو سره یې د اختر درې ورځې په ګډه ولمانځلې، محمد اشرف غني یاد اوربند وغځولو، خو د طالبانو له لوري ونه غځول شو.

**پایله**

افغان حکومت او طالبان باید دا ومني، چې سوله د یو څه ورکولو او یو څه منلو په مانا ده او په هېواد کې د جګړې ختمولو او سولې راوستلو لپاره باید دواړه لوري د بین الافغاني خبرو اترو لپاره د زمینې برابرولو په موخه جګړه کمه کړي، چې په پایله کې به مخامخ خبرو ته زمینه برابره شي. د دواړو لوریو په همغږۍ سره به د بهرنیو ځواکونو وتلو ته زمینه برابره شي، که چېرې دواړه لوري په دې سره جوړ نه شي، نو دا د بهرنیو ځواکونو د لا تم کېدو او مېشته کېدو په مانا دي، چې په دې برخه کې به بیا هم د قربانۍ ډېره بیه عام افغان ولس پرېکوي او په پایله کې به د هېواد راتلونکی له یو نامعلوم برخلیک سره مخ وي.

له دې ورهاخوا د افغان سولې په اړه سیمه ییز او نړیوال لوري هم باید په پام کې ونیول شي او هغوی له بین الافغاني خبرو ورهاخوا له امریکایي لوري سره د سولې په اړه د خبرو اترو له جریان څخه هم باید خبر کړل شي او هېڅ هېواد ته باید د سولې په اړه د شکونو ځای پرې نږدي، څو په راتلونکې کې د خپلو ګټو لپاره د رښتینې سولې سبوتاژ کولو هڅه وکړي.

په ټوله کې افغان مشران باید طالب لوری او افغان دولت دې ته اړ کړي څو د یو بل پر وړاندې له سختو او منفي څرګندونو څخه لاس واخلي او په ګډه د هر اړخیزې سولې راوستلو ته کار ووايي، څو د افغان ولس ستره هیله او ارمان چې په ټول هېواد کې د سولې راتلل دي، پوره شي او د جګړې ټغر له هېواد څخه د تل لپاره ټول شي. همدارنګه د طالبانو سفرونه د سیمې هېوادونو ته او په خپره کړې اعلامیه کې له امریکایانو سره د خبرو پر پیل ټینګار، امریکا هم باید له طالبانو سره د افغان کشالې د حل په موخه خپلې شروع شوې هڅې تېزې کړي، څو په افغانستان کې تل پاتې سوله راشي چې دا د امریکا، د سیمې هېوادونو او په ټوله کې د ټولو په خیر ده.

**پای**

# ټرمپ: ابوبکر البغدادي د امریکایي ځواکونو په عملیاتو کې وژل شوی دی



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې د یوه خبري کنفرانس پر مهال د داعش ډلې د مشر ابوبکر البغدادي د وژل کېدل خبر تایید کړ.

ټرمپ وویل چې ابوبکر البغدادي د سوریې په شمال لوېدیځ کې د امریکایي ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې وژل شوی دی.

هغه زیاته کړې چې البغدادي له څو کلونو راهیسې د امریکا تر څار لاندې و.

ټرمپ دغه راز ویلي چې بغدادي د امریکایي پوځ د عملیاتو پر مهال، په ځان پورې تړلو چاودېدونکو موادو ته چاودنه ورکړې چې څو ماشومان هم ورسره وژل شوي دي.

تر دې وړاندې ناتایید شویو راپورونو هم ویلي وو چې د اسلامي دولت ډلې یا داعش مشر ابوبکر البغدادي، د امریکایي ځواکونو په عملیاتو کې وژل شوی دی.

د نیویارک ټایمز، سي اېن اېن او نیوزویک په ګډون، ځینو امریکایي رسنیو د البغدادي د وژل کېدو په اړه ویلي وو چې ګومان کېږي هغه به د سوریې په ادلیب ولایت کې د امریکایي ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې وژل شوی وي.

په سوریه، عراق او ایران کې ځینو سرچینو د اسلامي دولت یا داعش ډلې د مشر ابوبکر البغدادي د وژل کېدو خبره کړې.

پردې سربېره، یوه امریکایي چارواکي هم د خپل د نوم نه ښودو په شرط رویټرز خبري آژانس ته ویلي وو، چې البغدادي د شنبې په شپه (اکټوبر ۲۶مه) د امریکایي پوځیانو په شپنیو عملیاتو کې په نښه شوی دی.

د سوریې په شمال لوېدیځ ولایت ادلیب کې د یوې سخت دریځې ډلې قوماندان چې نوم یې نه دی په ډاګه شوی، هم ویلي وو چې ګومان کوي البغدادي به د شپې لخوا په هغو عملیاتو کې وژل شوی وي، چې هلیکوپټرو، جنګي الوتکو او ځمکنیو ځواکونو ترکي پولې ته نږدې د بریشا په کلي تر سره کړل. د البغدادي د وژل کېدو خبر لومړی نیوزویک مجلې ورکړی و.

نیوزویک لیکلي چې یوه امریکایي پوځي چارواکې ورته ویلي چې البغدادي د هغو ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې وژل شوی، چې د نوموړي د اوسېدو د ځای په اړه د تر لاسه شویو کره استخباراتي معلوماتو پر اساس تر سره شول.

د یادونې وړده چې د هغو معلوماتو په بدل کې چې په نتیجه کې یې البغدادي ونیول شي، د امریکا متحده ایالتونو ۲۵ میلیون ډالره جایزه ټاکلې وه.

وروسته له هغې چې په ۲۰۱۷ ز کال کې موصل او رقه ښارونه، چې په عراق او سوریه کې د اسلامي دولت ډلې دوه قوي سنګرونه وو، یادې ډلې له لاسه ورکړل، د البغدادي له لوري اعلان شوی اسلامي خلافت هم ورسره ونړېد او نوموړی دې ته اړشو چې د عراق او سوریې په دښتو کې ځان پټ کړي.

د امریکا په هوایي بریدونو کې د البغدادي مهم قوماندانان ووژل شول او مخکې له دې چې په اپرېل میاشت کې البغدادي ته منصوب یو ویډیویي پیغام خپور شي، د هغه د وژل کېدو په اړه هم ضد و نقیض راپورونه ورکړل شوي وو.

# د ترکیې او کُردانو شخړه او پر افغانستان یې اغېز

لیکنه: مشتاق رحیم

کابو دوې اونۍ وړاندې د سوریې له شمال ختیځ څخه د امریکا له وتلو سره سم ترکیې اعلان وکړ، چې د کردي ملېشو د ځپلو لپاره به د سوریې پر خاوره برید وکړي، څو خپلې پولې د دوی له ترهګریزو چارو په امن کې کړي. له دغه اعلان سره سم په افغانستان کې پر دغه شخړه باندې ستر بحث پیل شو او افغان ولس او د نظر خاوندان د قضیې په اړه د خپلو معلوماتو په رڼا کې له رامنځته شوي لیدلوري سره سم، پر بېلابېلو ډلو ووېشل شول. یوه ډله چې ځان د پان اسلامېزم د لارې لارویان معرفي کوي او د ترکیې ولسشمر اردوغان ته د اسلامي برم او حیثیت د بیا ګټلو د سرلارې په توګه ګوري او همدا راز ځان د مصر اخوان المسلمین خوځښت د تګلارې لارویان ګڼي، د کردانو مخالف شول او هغوی یې د امریکایانو او اسرایلو د لاسپوڅو په توګه معرفي کړل. دې ډلې په ډېر شوق او جذبې سره د انقرې له دریځ دفاع پیل کړه. دویمه ډله چې لومړۍ ډله ورته سېکولران وایي او دوی پخپله ځان تر ډېره بریده ملتپال را پېژني، د اردوغان دغه چاره یې تېرې وباله او مخالفت یې کوي. د بحثونو په لړ کې درېیمه ډله هم لیدل کېږي چې ځان د ملتپالو په توګه وړاندې کوي، خو د بحث اساس یې له امریکا سره مخالفت دی. هغوي بیا د اسلامپالو په څېر د ترکیې د دریځ ملاتړ کوي ولې چې د ترکیې چاره د دوی په اند د امریکا ضد یو خوځښت دی.

په رسنیو کې د دغو دریو ډلو بحثونه تر ډېره د خپلو باورونو تر اغېز لاندې لیدل کېږي. هر یو د بلې ډلې د مخالفت یا موافقت لپاره د خپل سیاسي یا مذهبي عقیدو له زاویې په کتلو، استدلال کوي. که اسلامپالو د اردوغان د کردانو پر ضد نظامي اقدام د یهودو او امریکایي تېري کوونکو په مقابل کې یوه برحقه مبارزه ګڼله، نو بله خوا یې دا هېر کړي چې ترکیه د خپلو موخو په لټه کې پخپله تېری کوونکې ثابتېږي. ترکیې د سوریې د کړکېچ له پیل را پدېخوا، د سوریې یاغي ډلو لکه د سوریې آزاد پوځ او ورته نورو سره چې د سوریې د نظام په مقابل کې جنګېږي، ملاتړ کړی او د همدې ډلو په مرسته یې تېر کال د سوریې د افرین په نوم سیمه د تروریستي ډلو (کردانو) د ځپلو په پلمه ونیوله. دا اوس هم د ترکیې او سوریې په پوله انفره، تل ابیض او راس العین سیمو کې همدا یاغي ډلې د خپلو نایبانو یا لاسپوڅو په توګه په جګړه ګوماري. همدا راز، هغه څوک چې یهود او امریکا ښکېلاکګر ګڼي او ورڅخه کرکه لري، دا ترې هېر دي چې همدا ترکیه د ناټو په چوکاټ کې پر افغانستان د برید ګډونوال هېواد و او له امریکایانو سره اوږه په اوږه افغانستان ته راغله. بلخوا بیا ملتپال سره له دې چې پر دې پوهېږي چې اسرایلو په عراقي کردستان کې او آن په ایران او سوریه کې د خپلو شرارتي کړنو په خاطر له کردانو سره مرستې کړې، څو اسلامي هېوادونه پکې وځپل شي، کردان په حقه ګڼي. ملتپال په دې دلیل چې د ملي مبارزې د ګټلو لپاره امریکا او یهود مهم نه دي، بلکې د موخې د لاسته راوړلو لپاره د ازادۍ مبارزې له هر ډول امکاناتو څخه ګټه پورته کوي، خو ملتپال مفکوره لرونکي دا هېروي چې هغه اسرایل او امریکا چې د فلسطین ستر ملت حق یې له نیمې پېړۍ راهیسې تر پښو لاندې کړی، څنګه حق حقدار ته رسولو کې مرسته کولی شي؟

خو د ترک – کرد شخړې د لوبغاړو او د هغو ضد او نقیض (Paradoxical) برخوردونه زما د بحث محور نه دی او په دې اړه ما دوې نورې لیکنې کړې، څو تر یو حده مسئله واضح کړم. پورته انځور ترتیبول راته یوازې په دې اړین و، څو دا واضحه شي چې د روانې شخړې له افغان څارونکو څخه څنګه خپلې فکري کرښې ګډې وډې شوې دي. همدا راز، زه دا هم منم چې د اړیکو کوم انځور چې ما وړاندې کړی، په هغه کې هم خورا ډېر بحث کېدای شي او شاید د قضایاوو په اړه داسې تور او سپین بحث ناسم وي، خو په دې لنډه لیکنه کې زما بنسټیز بحث د روانې شخړې تحلیل نه، بلکې د مسایلو په اړه د افغانانو د تحلیل چوکاټ او بنه ارزول دي.

که وکتل شي، نو د افغانستان د ټولو ډلو تحلیل د خپلو عقیدو یا ډوګما (Dogma) په رڼا کې دی. د دغو باورونو یا Dogma په قید کې بندیوان تحلیلونه د دې لامل کېږي، چې د قضیې هر اړخیز تحلیل پر خپل ځای پاتې شي او هره ډله کوښښ کوي چې له خپلو عقایدو سره عیاري ډلې ته په افغانستان کې میدان وګټي. پر خپلو باورونو باندې پرته له ارزونې او شننې کلک دربدل، د دې لامل کېږي چې شننه تعصبي یا ډوګما ځپلې (Dogmatized) شي. د یوې قضیې په اړه د طرف په توګه قضاوت که د قضیې اړخونه وکړي، خو شاید هغوی ته مونږ په دې حق قایل شو او دا ورسره ومنو چې هغوی د خپلو موخو له زاویې دا چاره تر سره کوي، خو د یو درېیم اړخ په توګه چې په یوه لرې جغرافیه کې پراته یو، دا ډول قضاوت نه یوازې دا چې مونږ له حقیقته لرې کوي، بلکې د ناسم دریځ ملاتړ له کبله مو په ټولنه کې خپل باور ته هم زیان رسوي.

د ترکیې او کردانو د شخړې په اړه د بحث په لړ کې دویم څه چې لیدل کېږي، هغه د موضوع له کبله د افغانستان د وېشل شوي ټولنیز او سیاسي جوړښت وېش دی. د یوې داسې قضیې په اړه د طرف په توګه قضاوت چې زموږ له هېواد څخه په خورا ډېر لرې واټن کې پرته جغرافیه ده او کړکېچ او شخړه یې شاید د افغانستان پر اوسني وضعیت، سیاست او بدمرغۍ هېڅ ډول مثبت یا منفي اغېز ونه شي لرلی، زموږ د ټولنې پر ډلې ټپلې د وېشل کېدو لامل شوې. د طرف په توګه تعصبي قضاوت او بیا د خپل دریځ د ترویج په خاطر، پر نورو باندې ټاپې او تورونه لګول د دې لامل کېږي چې د بېلابېلو ایډیالوژیکو ډلو او اشخاصو ترمنځ شته فاصلې لا زیاتې شي. د تفاهم په موخه بحث، ځای د خپل دریځ ترویج ونیسي او په ټوله کې د یوې شړېدلې ټولنې د جوړښتونو ترمنځ ټکر لا پسې پیاوړی شي.

د دې لپاره چې په ټولنه کې مو شننه او خبره د مکث او اورېدو وړ وګرځي، نو اړینه ده چې د خلکو باور تر لاسه کړو. دا باور په هماغه کچه پورته ځي، په کومه کچه چې موږ د خپل نظر په وړاندې کولو کې د تعصب کچه را ټیټه کړو. په ټولیزه توګه د خپلو باورونو له قید څخه خلاصون یو آیډیال حالت دی چې تر لاسه کول به یې هر چاته په هره مرحله کې اسانه نه وي، خو د امکان تر بریده هڅه کولی شي شننه او خبره د نورو لپاره د منلو وړ وګرځوي.

د خپلې خبرې لپاره د باور ګټلو او له دې لارې د ټولنې د مسایلو په اړه له قضاوت کولو سره د مرستې تر څنګ، ډېره اړینه ده چې په هېواد کې مو د ایډیالوژیکو ډلو ترمنځ ډیالوګ ته فضا جوړه شي. داسې یو حالت را منځته شي چې له موږ سره له دې چې په بېلابېلو فکري ډلو کې ځای پر ځای و اوسو، خو بیا هم له یو بل سره د سالمې مباحثې لپاره یوه سالمه فضا خپله کړو، یوځه مرسته وکړي. که وکتل شي، د افغانستان د نننۍ غمیزې یو بنسټیز لامل د همدا ډول یوې فضا نه درلودل او پر ټولنه باندې د خپلو افکارو د تپلو هڅه وه، چې افغانستان یې لوټې لوټې کړ. په همدې دلیل، اړینه ده چې لومړی باید دا تفکیک کړو چې یوه مسئله تر کومه بریده زموږ پر حالت باندې مثبت او منفي اغېز درلودای شي او یا هم په قضیه کې د ټولنې په توګه موږ څومره رول درلودلی شو. که له دواړو حالتونو څخه یو راته پېښ وي، نو باید هغه بحث ته لومړیتوب ورکړو، چې وشو کولای خپله ټولنه په موضوع کې د مثبت رول جوګه کړو. دویمه خبره دا ده چې د قضاوتونو په لړ کې د خپلو باورونو اغېز تر اعظمي حده را کم کړو، څو ټولو لوریو ته د منلو وړ یو انځور وړاندې کړو او کله چې یو تکمیل انځور په خپل مخ کې ولرو، بیا د هغې په مرسته د خپلو افکارو او عقایدو په رڼا کې د رول لوبولو هڅه وکړو. دا به له موږ سره مرسته وکړي چې له یو بل سره د مخالفت او ملامتولو پر ځای، د تفاهم له لارې د یوې مسئلې په اړه بېلابېلې حللارې وړاندې کړو.

زه فکر کوم چې په افغانستان کې د اوس لپاره باید لومړیتوب زموږ د کور دننه سوله او ثبات وي. خپله ټوله انرژي د خپل حال پر بدلولو متمرکزه کړو او د خپلو ستونزو لپاره حللاره ولټوو. د ترکانو او کردانو په شخړه کې شاید موږ د هېڅ ډول رول لوبولو جوګه و نه اوسو او همدا راز د هغوی روان کړکېچ هم پر موږ کوم اغېز ونه شي لرلی. په داسې حالت کې تعصبي قضاوت که یوه خوا زموږ باور ته تاوان رسوي، نو بلخوا مو د ډلو او اشخاصو ترمنځ د وېش واټن لا پسې غځوي.

# د لومړنیو پایلو د اعلان ځنډېدل؛

## ټاکنیز ټیمونه: د پایلو په اعلان کې ځنډ ناندریو او فساد ته زمینه برابروي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لومړنیو پایلو اعلان وځنډاوه. کمېسیون هغه طرزالعمل او مهالوېش تر پښو لاندې کړ چې پخپله یې جوړ کړی و. کمېسیون وایي چې د ځینو ستونزو له امله اړ شوي چې د لومړنیو پایلو اعلان وځنډوي، خو تر ډېره یې د دغو ستونزو په اړه وضاحت نه دی ورکړی. بلخوا ټاکنیز ټیمونه بیا د ټاکنو د کمېسیون له لوري د لومړنیو پایلو د اعلان پر ځنډ نیوکه کوي. دوی وایي، د کمېسیون دغې پرېکړې اندېښمن کړي دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون په لومړي سر کې د خپل کار له پیل سره سم وویل چې ولسمشریزې ټاکنې به په خپله ټاکلې نېټه تر سره کېږي او تر هغه وروسته به یې لومړنۍ پایلې هم پخپل وخت اعلان شي. سره له دې چې ولسمشریزې ټاکنې څو ځله وځنډول شوې، خو اوس کمېسیون پر دې هم بریالی نه شو چې لومړنۍ پایلې په خپل وخت اعلان کړي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د تېرې میاشتې ۲۷مه د لومړنیو پایلو د اعلان لپاره مشخصه کړې وه، خو له دې نېټې د لسو ورځو تر تېرېدو وروسته یې تازه اعلان کړی، چې ټاکنې به د روانې لړم میاشتې په ۲۳مه اعلان کړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییسې حوا علم نورستانۍ تېره ورځ په یوه خبري کنفرانس کې د خبرو پر مهال وویل، چې د لړم ۲۳مه د ټولو اړخونو په مشورو او تایید ټاکل شوې ده او په هېڅ صورت به بدلون نه پکې راوستل کېږي. نورستانۍ وایي: ((ما، کمېشنرانو او زموږ ټول ټیم له دارالانشا سره یو ځای په دې کار وکړ، چې د تخنیکي ستونزو مخه هم ونیسو او هغه نېټه چې نن مو اعلان کړه، بیا نقض نه شي)).

نوموړې وویل، د ټاکنو د لومړنیو پایلو د اعلان د ځنډ لامل دا دی، چې ټاکنیز ټیمونه د رایو او ځینو مسایلو په اړه شکایتونه لري. همدا راز د بایومټریک په دستګاوو کې ستونزې او د دې مسایلو د سپړلو تر څنګ یې له درملوګ کمپنۍ سره ځینې ستونزې د دې لامل شوې دي، چې د لومړنیو پایلو اعلان وځنډېږي.

سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د شفافیت او سرعت لپاره د میلیونونو ډالرو په ارزښت بایومټریک آلې واخیستې او له درملوګ کمپنۍ سره یې هوکړه وکړه او په ټاکنو کې یې تخنیکي او الکترونیکي مسایل ډېر کړل، خو بیا هم دغه کمېسیون بریالی نه شو چې خپل مهالوېش عملي کړي. د ټاکنو خپلواک کمېشنر مولانا عبدالله وایي، ځینې تخنیکي ستونزې او تر څنګ یې د کمېسیون پر کمزوري فعالیت سربېره، په ځنډ د موادو رالېږد، ځینې اعتراضونه او د درملوګ کمپنۍ ناغېرې، د لومړنیو پایلو د اعلان د ځنډ لاملونه دي.

بلخوا ټاکنیز ټیمونه بیا د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر کمکارۍ او د لومړنیو پایلو د اعلان پر ځنډ نیوکه کوي. دوی وایي، د اعلان ځنډېدو اندېښمن کړي دي او دوی چې کومه موده ټاکلې، خورا ډېره او غیر منطقي ده. د ثبات او همپالنې ټاکنیز ټیم یوه غړي محمد یونس نو اندېش وویل، دوی ته یوازې یوه اونۍ ځنډ د منلو دی، تر دې زیات وخت په هېڅ صورت د منلو وړ او منطقي نه ښکاري. نوموړی وایي: ((له ۷ تر ۸ ورځو ځنډ یو طبیعي خبره وه، ځکه د همدې ورځو په اوږدو کې د معلوماتو ملي مرکز ته ډېټا ونه لېږدول شوه، خو له دې د زیاتو ورځو ځنډ موږ ته د اندېښنې وړ دی)).

د ولسمشر غني په مشرۍ دولت ساز ټیم هم وایي، څومره چې د لومړنیو پایلو اعلان ځنډېږي، دومره اندېښنې پاروي. د دغه ټیم د غړو په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید هر څه له مهالوېش سره سم مخ ته وړي وی او په دې توګه یې د ولس غوښتنو ته ځواب ویلی وای. دوی وایي، اوسنی ځنډ فساد او په هېواد کې ناندریو ته زمینه برابرولی شي.

# په کونړ کې د افغان ځواکونو او پاکستاني ملېشو ترمنځ درنه جګړه شوې

د کونړ ولایت په ناړۍ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او پاکستاني ملېشو ترمنځ درنه جګړه شوې ده.

د دغه ولایت چارواکو ویلي چې نښته تېره ورځ د ناړۍ ولسوالۍ په دوکلام سیمه کې شوې ده.

په ورته وخت کې د ناړۍ ولسوالۍ اوسېدونکي ګل زمان بي بي سي ته ویلي چې جګړه تېره ورځ مازدیګر شاوخوا څلور بجې پیل شوې ده.


د دغه ولایت رسنیز دفتر ویلي چې د ډیورنډ پر فرضي پوله د پاکستاني ځواکونو له لوري غیر قانوني تحرکات شوي، چې د افغان ځواکونو او ولس لخوا یې مخنیوی شوی دی او د دواړو لورو ترمنځ نښته رامنځته شوې ده.

د کونړ ولایت رسنیز دفتر پاکستاني پوځیان د ډزو په پیلولو تورن کړي او زیاته کړې یې ده چې د پاکستاني پوځیانو له لوري پر ولسونو او امنیتي ځواکونو ډزې شوې چې افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو له خپل ځان او ولس دفاع کړې.

بلخوا د کونړ د ولایتي شورا غړي محمد ساپي بي بي سي ته ویلي چې پاکستان د افغانستان پر خاوره تاسیسات جوړول؛ ځکه جګړه رامنځته شوې ده.

د ساپي په خبره، د کرښې له هغې غاړې یوه توغول شوې هاوان، یوه ښځه او یو سړی ژوبل کړي دي.

سرچینې ویلي، څو ورځې وړاندې دواړو



خواوو وروسته له هغه خبرې وکړې، چې پاکستاني پوځیانو په صفري نقطه کې پوځي تحرکات وکړل.

د یادونې ده چې له څو کلونو راهیسې پاکستان د کونړ پر بېلابېلو سیمو په زرګونه توغندي راتوغولي، چې د مالي زیان تر څنګ یې د سر زیان هم درلود او ډېری کورنۍ یې له وېرې د کونړ نورو سیمو ته کډه شوې، خو تر اوسه پورې د دغې ستونزې د حل لپاره کومه لار نه ده پیدا شوې.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهگرۍ په لومه کې




سوات او شاوخوا سیمو ته د تحریک نفاذ شریعت محمدی په راتگ سره اندېښنې زیاتې شوې. دا تحریک د لومړي ځل لپاره د مولانا صوفي محمد له لوري په ۱۹۸۹ز کال جوړ شوی و، مولانا دېوبندی عالم و، پخوا تر دې یې په دې سیمه کې د جمعیت اسلامي مشري په غاړه وه. ۱۹۹۴ز کال یې هغه مهال لا سرخوږی جوړ کړ چې له ملکنډ سره نښتې لارې یې وتړلې. د سوات، دیر، بنور او ملکنډ په نورو سیمو کې د تحریک نفاذ شریعت محمدي له لوري یې د شریعت د پلي کېدو لپاره د ډېرو خلکو ژوند واخیست. د دې ډلې شعار (شریعت یا شهادت) و، له دې شعار څخه یې ژمنتیا هم معلومېده. کله چې سرحدي ځواکونو دا سیمې له تحریک څخه خلاصولې، بیا هم خلکو ته ډېره مرگ ژوبله واوښته.

د ۱۹۹۵ز کال په یوه مرکه کې صوفي محمد ویلي وو: ((لوېدیځه ولسواکي د محمد ص له شریعت سره مخالفت کوي. هغه سېستم ټول پر سیاسي گوندونو ولاړ دی. قرانکریم تر هرڅه لومړی په ټولنه کې د یووالي غوښتنه کوي. د سیاسي گوندونو په موجودیت کې شریعت ته ځای نشته. موږ د ولسواکۍ او ټاکنو مخالف یو.))

که څه هم حکومت دې تحریک ته بښنه وکړه، خو د ۱۹۹۴ز کال په جگړو کې دې ډلې خپل سیاسي نفوذ له لاسه ورکړ. خو دا هرڅه پر خپل ځای پاتې نه شول، د ۲۰۰۱ز کال له اکتوبر وروسته، هغه مهال چې امریکا د افغانستان پر خاوره بریدونه وکړل، مولانا صوفي محمد افغانستان ته مخه کړه. د هغه خبرو ډېر کسان هڅولي وو، له همدې کبله افغانستان ته ورسره لاړل چې ډېری یې بیا هېڅکله رانغلل.

د هغه له ځینو ژغورل شوو جگړه مارو سره مې په ۲۰۰۲ز کال مرکې وکړې. هغوی له جگړې ستړي شوي وو، له صوفي محمد څخه یې هم کرکه کوله، ځکه هغه دا کسان ټول یوازې پرې ایښي وو، خپله د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې له دوی پرته یوازې پاکستان ته تللی و. هغه د خپلو جرمونو په سبب ونیول شو او محکمې د اوو کلونو زندان حکم پرې وکړ. په ۲۰۰۲ز کال پر تحریک نفاذ شریعت محمدي هم بندیز ولگېد.

کله چې مولانا صوفي محمد په زندان کې و، د هغه زوم راپورته شو. زوم یې مولانا فضل الله نومېده، کله چې لا تبلیغي شوی نه و، هغه د امام دهري په نوم یوه کلي کې ژوند کاوه. په مدرسه کې یې خپلې دیني زده کړې په بشپړه توگه پای ته نه وې رسولې، خو ویل به یې چې له خسر څخه یې هرڅه زده کړي و. نوموړی په سوات کې د خپلو پیغامونو د خپرولو لپاره په ۲۰۰۴ز کال یوه ناقانونه (اېف اېم) راډیو جوړه کړه. د هغه پلویان ورځ تر بلې ډېر شول، د ځایي خلکو په مرسته یې د خپل سازمان سربېره مدرسې ته هم پیسې پیدا کولې. هغو مېرمنو چې د نوموړي خبرې به یې اورېدلې هم هغه ته پیسې ورکولې. ځینو خو ان خپلې گاڼې هم په مرسته کې ورکړې وې. مولانا فضل الله په قبایلي سیمو کې له طالبانو سره هم اړیکې غزولې وې. خلکو به د سوات په شاوخوا کې، په ۲۰۰۷ز کال د لعل مسجد له پېښې وړاندې د یاغیانو د راپیدا کېدو خبرې کولې.

مولانا فضل الله چې له لعل مسجد سره یې ښې اړیکې لرلې، د دې پېښې د غچ اخیستونکو په ډله کې یو ځای شو. په سوات کې مولانا فضل الله د اېف اېم راډیو له لارې د مولانا عبدالعزیز او عبدالرشید غازي خطبې او ویناوې خپرې شوې وې. کله چې د ۲۰۰۷ز کال په ډسمبر کې د پاکستاني طالبانو تحریک جوړ شو، مولانا فضل الله یې د سوات څانگې مشر کړ. وروسته له هغه یې د سوات پر ډېرو سیمو کنټرول ولگاوه. د هغه وخت په یوه راډیویي خبرتیا کې مولانا ویلي وو: ((ټولو پولیسو ته اعلان کوم، هغوی ته وایم که د مسلمان پلار او مور څخه زېږېدلي یاست، نو د پنځو روپو لپاره خپل ژوند له گوابښ سره مه مخ کوئ. هیله ده نور دې اور ته پکې مه وهئ.))

په سوات کې د طالبانو له راپورته کېدو سره د شپږو اسلامي سیاسي گوندونو اتحاد، عمومي متحده مجلس مرسته وکړه. په خیبر پښتونخوا کې د دې اتحاد له پنځه کلن موجودیت سره هغوی بیا هم په سوات کې د طالبانو پر راپورته کېدو سترگې پټولې. د دې اتحاد ځینو غړو خو ان د طالبانو ملاتړ کاوه. د دې لپاره چې د خپل کنټرول اغېزناکه انگېزه خپره کړي، هغوی لومړی د نڅا کوونکو نجونو له منځه وړلو ته لاس واچاوه. هغوی په منگوړه کې د نڅا ځای بند کړ. د وېرې خپرولو لپاره یې په ۲۰۰۹ز کال د شبانې په نوم یوه مشهوره نڅاگره د خلکو پر وړاندې ووژله. هڅه یې وکړه چې په ۲۰۰۷ز کال د ۱۵۰۰ کاله پخوانۍ بودا مجسمه په سوات کې له منځه یوسي.

په سوات کې د طالبانو نفوذ هغه مهال لا هم ډېر شو، کله چې له نېشنل عوامي گوند سره په ۲۰۰۸ز کال د سولې تړون ناکام شو. یاغیانو بله موازي اداره جوړه کړه، د خلکو ژوند یې د شپنیو لیکونو او اېف اېم راډیو گانو له لارې تنظیماوه. وېرېدلي ځایي خلک اړ وو چې د طالبانو لارښوونو ته په پرلپسې توگه غوږ ونیسي. ما ته ځینو مهمو سواتیانو وویل چې هغوی به راډیو ته ځکه غوږ نیوه چې د طالبانو له هرڅه خبر شي، داسې نه چې د سرغړونې په صورت کې له ستونزو سره مخ شي. سید محمد جاوید چې په سوات کې تر ټولو لوی بیروکراټ و، له طالبانو سره کتل او ان د امنیت گزارش به یې هم له طالبانو اخیست، عامو خلکو به هغه د طالبانو کمېشنر باله. **دوام لري...**

# فلیپین

حشمت الله نوري

فلیپین د ټاپوگانو ټولگی د آسیا د لویې وچې په جنوب- ختیځ، په آرام سمندر کې د فلیپین د سمندر او د جنوبي چین د سمندر تر منځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی۱۱۵۸۳۱ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ٦۵م لوی هېواد بلل کېږي.

د فلیپین د ټاپوگانو ټولگی ټول اوبو چاپېره کړی دی. جنوب ته یې مالیزیا او اندونیزیا دغه هېواد ته تر ټولو نږدې پراته هېوادونه دي. شمال ته یې آرام سمندر، ختیځ ته یې آرام سمندر او لوېدیځ ته یې د جنوبي چین سیند موقعیت لري.

د فلیپین د ټاپوگانو ټولگی له ۷۱۰۷ ټاپوگانو څخه جوړ شوی دی، چې په ۱٦۰۰ کیلومتره اوږده سیمه کې خواره واره پراته دي. یوولس ټاپوگان د دغه هېواد ۹۵ سلنه خاوره جوړوي، د لوزان او میندونا دوه ټاپوگان د فلیپین درېیمه برخه خاوره نیولې ده.

د دغه هېواد پلازمېنه د مانیلا ښار دی او دغه هېواد ټولټال څه باندې ۱۰۰ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۸۷۰ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۷۰ سلنه وگړي په ښارونو او پاتې ۳۰ سلنه نور یې په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د فلیپین د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.

فلیپین د اداري وېش له پلوه پر ۸۰ ولایتونو او ۱۲۰ ښاري سیمو وېشل شوی دی. کباناتاون، کویزون ستي، ناگا، بتان، گس، ستي لینگاین، لوسینا، مالولوس، دانسالان او سیبو یې مهم ښارونه دي.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري دی، د فلیپین اوسنی اساسي قانون د ۱۹۸۷ ز کال د فبرورۍ په ۱۱مه نافذ شوی دی. د دغه هېواد اوسنی ولسمشر رودریگو دی چې د لومړي وزیر چارې هم پر مخ بیایي.

په فلیپین کې ولسمشر او مرستیال یې دواړه په بېلابېلو ټکټونو کې د شپږو کلونو لپاره د خلکو په خوښه او د کابینې وزیران د ولسمشر لخوا د ټاکنو د عالي کمېسیون په تصویب ټاکل کېږي. د دغه هېواد پارلمان دوه جرگې لري، مشرانو جرگه یې ۲۴ غړي لري او نیمایي غړي یې په هرو درېو کلونو کې ټاکل کېږي. دویمه ولسي جرگه یې ۲۳۰ غړي لري، چې د درېو کلونو لپاره د ولسوالیو په سطحه او د گوندونو د لېستونو له مخې، د خلکو په خوښه ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو عمر ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د دغه هېواد حقوقي نظام د اسپانوي او انگلو امریکایي قوانینو پر اساس جوړ شوی دی. د فلیپین د حقوقي نظام په سر کې ستره محکمه ځای لري، چې ۱۵ قاضیان یې د ولسمشر لخوا د قضایي کمېسیون په مشوره ټاکل کېږي. دا قاضیان د ژوند تر ۷۰ کلنۍ پورې کار کوي. له سترې محکمې وروسته، فلیپین د استیناف محکمه او د دولتي چارواکو ځانگړې محکمه لري، چې د اختلاس او رشوت تورونه څېړي.

دغه هېواد د ۱۸۹۸ ز کال د جون په ۱۲مه له اسپانیا او د ۱۹۴٦ ز کال د جولای په څلورمه د امریکا له متحده ایالاتو څخه خپلواکي اخیستې او اوس همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

په ۱۹۷۷ ز کال کې د فلیپین اقتصاد چې کرنه او سپک صنعت یې دوه اساسي ستنې بلل کیدې، د خپلې گټورې پرمختیا پنځوسمه کالیزه ونمانځله. په دغه موده کې د فلیپین اقتصاد د پانگې اچونې او د صادراتو د پراختیا تگ لاره درلوده. په ۱۹۹۸ ز کال کې د فلیپین د اقتصادي ودې کلنۍ اندازه د ختیځې آسیا په هېوادونو کې د مالي بحران له امله درې سلنې ته ټیټه شوه. دغه بحران د فلیپین گاونډیو ته ډېر زیانونه واړول، ځکه چې په بهر کې فلیپیني کارگران هر کال خپل هېواد ته له اوو تر اتو بلیون ډالرو عواید لیږي، چې فلیپین به ورو ورو د ختیځې آسیا د صنعتي هېوادونو په کتار کې ودروي. د اقتصاد بنسټونه به پیاوړي کړي او د مالیاتو داسې سیستم به تطبیق کړي چې د دولتي عوایدو له زیاتوالي سره مناسبه مرسته وشي. په ۱۹۹۸ ز کال کې د فلیپین د ناخالص کورني تولید وده یو سلنه وه، خو د دولت د پرله‌پسې هڅو له امله، دې شمېرې کال په کال مثبت بدلون کاوه، چې په ۲۰۰۱ ز کال کې څلور سلنې ته ورسېده.

۲۰۰۲ ز کال د فلیپین لپاره ښه کال و، ناخالص کورني تولید یې پنځه سلنې او یو کال وروسته شپږ سلنې ته لوړ شو. په فلیپین کې خدماتي سکټور ښه وده کړې ده، د کرنې حاصلات ښه دي او د صادراتي مالونو په کیفیت کې مثبت بدلونونه راغلي دي.

په هغو کلونو کې د فلیپین ۴۰ سلنه خلکو د فقر له نړیوالې کرښې ټیټ ژوند درلود، ځکه چې په دغه هېواد کې د نفوس کلنۍ ډېرښت ډېر لوړ دی او د هېواد د ملي عاید په وېش کې عدالت نشته او ډېر خلک وزگاره دي.

د فلیپین د دولتي سکټور ډېرې کارخونې گټور تولید نه لري او د دولت پر بودیجه یې باز دروند کړی دی. دغه کارخونې په خصوصي سکټور کې هم پیرودونکي نه لري. د دغه هېواد دولت هڅه کوي چې د قانوني پرمختیا له لارې کورني او بهرني پانگه وال په خپل هېواد کې کار او پانگونې ته وهڅوي او وزگارو ځوانانو ته کار پیدا کړي.

د کانونو ایستل، د نفتي موادو چاڼ، ټوکران، خوراکي توکي، نقلیه وسایط، کاغذ، سیمنټ، دارو درمل، کېمیاوي توکي، لرگین شیان، مخابراتي وسایل، برېښنایي وسایل، فلزي سامان او ماشینونه د دغه هېواد مهم صنعتي توکي بلل کېږي.

د فلیپین ۲۰ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده، څلور سلنه یې څړځایونو او پاتې نوره یې ځنگلونو، غرونو، بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۳۴ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي.

قهوه، گنې، وریجې، جوار، میوې، ام، ناریال، کېله، غوزان، سابه، غوښه، لبنیات، هگۍ او وانښه د فلیپین مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.

جاپان، امریکا، چین، سنگاپور، جنوبي کوریا، ټایلنډ او اندونیزیا د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي. دغه هېواد ۲٦۰ هوایي ډگرونه لري چې ۹۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د فلیپین د ټیلیفون کود ۰۰٦۳ او د انټرنېټ کود یې PH دی، چې ټولټال یې نهه میلیونه کسان لاسرسی ورته لري.

په فلیپین کې ډېر دولتي او خصوصي ټلویزیونونه او راډیوگانې فعالیت کوي. د فلیپین خلک ډېر بهرني ټلویزیونونه د سپوږمکۍ او کېبل له لارې لیدلی شي. په دغه هېواد کې ۳۰۰ انلوکستېیشنونه او څه باندې ۱۰۰۰ راډیوگانوې پر بېلابېلو ژبو خپرونې کوي.

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلنې عاید له پلوه، د آسیا یو پرمختلونکی هېواد بلل کېږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۹ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهېږي.

سره له دې چې د فلیپین د پخواني تاریخ په اړه ډېر معلومات نشته، خو دومره ویل کېږي چې فلیپین له میلاد څخه مخکې د آسیا په جنوب ختیځه سیمه کې د سوداگرۍ یو مهم مرکز و. په ۱۵۲۱ ز کال کې نامتو اروپایي کاشف ش فردیناند ماژیلان دغې سیمې ته ورسېد او دغه ښکلی ځای یې د اسپانیا د هغه وخت د پاچا په ویاړ ونوماوه. ماژیلان د فلیپین په یوه ټاپو کې ووژل شو او د فلیپین نیول تر ۱۵٦۴ ز کال پورې وځنډېدل. له هغه وروسته د ۱٦مې پېړۍ تر دویمې نیمایي پورې دغه ټول ټاپوگان د اسپانویانولاس ته ورغلل.

پر فلیپین د اسپانویانو واکمني درې پېړۍ ټینگه وه او په دغه اوږده موده کې د دغه هېواد ډېر شته اسپانیې ته ولېږدول شول. وروسته د اسپانوي سترواکۍ له کمزورتیا سره جوخت، په فلیپین کې مذهبي ډلې پیاوړې شوې او پراخې ځمکې یې په خپله ولکه کې واخیستې. په دغه اوږده موده کې د فلیپین خلکو چې له ۱۱ تر ۱۳ سلنې مسلمانان شوي وو، د اروپایانو واکمني ونه منله او مالیات او جنگي لگښتونه یې نه ورکول.

په ۱۹مه پېړۍ کې د نوموړو مذهبي ډلو پر وړاندې د خلکو پاڅونونو د ملي خپلواکۍ غوښتنې احساسات پیاوړي کړل. لویو ځمکوالو دغه پاڅونونه هڅول. په ۱۸۹٦ ز کال کې دغه خواره واره پاڅونونه سره نږدې او پر یوه ستر استعماري ضد غورځنگ بدل شول. دوه کاله وروسته د دې غورځنگ مشرانو د هېواد خپلواکي اعلان کړه، امریکایانو چې وخت په خپله گټه لیدلی و، د فلیپین د خپلواکۍ غوښتونکو د مرستې په نامه سیمې ته ودانگل او له اسپانویانو سره یې جگړه پیل کړه. د ۱۸۹۸ ز کال په پای کې اسپانوي سمندري پوځونو د امریکایي لښکرو پر وړاندې ماتې وخوړه او د فلیپین ټاپوگان او د هغه خلک د آزادۍ له‌پاره سره راټول شول او په ۱۹۳۵ ز کال کې امریکا دا ومنله چې په راتلونکو لسو کلونو کې به فلیپین ته خپلواکي ورکړي. ډېر ژر یې د کورواکه فلیپین اساسي قانون تصویب کړ او کرون د هېواد د ولسمشر په توگه وټاکل شو.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو مطالعاتو په کتاب کې د فلیپین نوم نشته، داسې ښکاري چې دغه دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

خو په دې وروستیو کلونو کې ځینې فلیپیني کارگران او متخصصین په افغانستان کې په ځینو کورنیو او بهرنیو شرکتونو کې کار کوي او خپل عواید خپلو کورنیو ته لیږي.

له افغانستان څخه تر فلیپین پورې د هوا له لارې فاصله ۵۹۲۰ کیلومتره او همدا راز د کابل او مانیلا ښارونو ترمینځ د وخت توپیر ۳:۳۰ ساعته دی.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸٦,٤۰ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# پیسې هغه څوک ګټي چې پوهه او هنر یې ولري

ژباړه: حمیدالله حمیدي

پیسې د هغه چا لاس ته ورځي چې پوهېږي چېرته دي. هغه څوک چې هم علم لري او هم هنر، په پایله کې له دې دواړو څخه یو مهارت زیږوي.

په اصل کې د پیسو ګټل هوښیاري غواړي. داسې هوښیاري چې وپوهېږې څه وخت باید کوم کار وکړې، څو دې جیب ته پیسې در شي.

کېدای شي تاسو هم زما په څېر له داسې یو چا سره مخ شوي وی، چې نه یې لوړې زده کړې کړې وي او نه هم لوستي وي، خو اوس ورته د سوداګر او لوی پانګه وال نوم اخیستل کېږي.

کیدای شي تاسو هم زما په څېر داسې کسان لیدلي وي، چې یوازې څو ټولګیه درس یې لوستی دی، خو اوس یې دومره پیسې پیدا کړې دي چې تاسو به هم فکر کوی ټولې ورته په لاټرۍ کې ختلې دي.

ډېر زیات وخت مې په دې اړه فکر کړی، څو پوه شم چې ولې داسې ده؟

په لومړي سر کې مې فکر کاوه چې دا نو ډېره لویه بې عدالتي ده. وروسته پوه شوم چې شتمن کېدل هوښیاري غواړي، نه سواد او دې ته ورته نور مسایل. پیسې باید پیدا کړل شي، نه داسې چې د یوه ښه تحصیلي سند په درلودلو سره یې په تمه کېنې.

وروسته پوه شوم چې پیسې ګټل هم ځان ته خپل اصول لري، هوښیاران پرې پوهېږي او داسې په اسانۍ سره یې موږ ته نه وایي.

«کله چې غواړی شتمن شی، دا باید زده کړئ چې له پیسو سره څه ډول چلن وکړی. پیسې لکه یو حیوان داسې



ستاسو تر لاس لاندې روزل کېږي. له ځینو حیواناتو سره، که تاسو ښه بلد وی او یو شی لرې ورته واچوی، ډېر ژر یې بېرته درته راوړي. پیسې هم کټ مټ همداسې کار کوي».

تر اوسه مو له ځانه پوښتنه کړې ده چې څومره پیسې مو پکار دي؟ یو عدد ووایئ.

ایا په دې اړه مو فکر کړی چې د دې اندازې پیسو لپاره مو هوښیارانه چلن کړی دی؟

د شتمنو د شتمن کېدو راز په څه کې دی چې هر چاته یې نه وایي؟

ان تاسو هم غواړی چې ډېر ژر شتمن شی، خو نه پوهېږی څه ډول... دغه مقاله چې همدا اوس یې تاسو لولی، دقیقاً هغه لارې چارې درته ښیي چې ستاسې په زړه کې یې د پیدا کېدو هیله ټوپونه وهي.

له بده مرغه هغه سنتي او رواجي درسونه چې موږ یې په ښوونځي کې او له خپلو مشرانو زده کوو، موږ شتمن کېدو ته نه اماده کوي؛ بلکې موږ ته را زده کوي، چې پر خپله میاشتنۍ تنخوا، پس انداز او کارمندۍ باندې فکر وکړو. په داسې حال کې چې شتمن خلک پر یو مبلغ ثابتو، دوریي (تنخوا) باندې هېڅ وخت تمرکز نه کوي؛ بلکې دوی غواړي چې پولي جریان خلق کړي.

په همدې اړه رابرټ کیوساکي موږ ته دری سپارښتنې کوي:

۱- مالي جریان
۲- پانګه
۳- قرض

هغه وایي، که پر پورتنیو دریو مفاهمو باندې نه پوهېږی، نو د شتمن کېدو فکر مو له سره وباسئ.

ان که یو څوک ښې ډېرې پیسې هم موږ ته راکړي او پورتني دری مواردہ مو زده نه وي، ډېرې ژر مو له لاسه وځي.

«که وکولای شی دری مفهومه مالي جریان، پانګه او قرض وپېژنی او په اړه یې زده کړه ولری، نو د شتمن کېدو لپاره به مو چانس ډېر زیات وي او د زیاتېدو په حال کې به وي. هغه کسان چې تل په اقتصادي ستونزو کې را ګیر وي او له قرض څخه نه خلاصېږي، یوازینی دلیل یې دا دی چې دوی له دې دریو مفاهمو څخه بې خبره دي».

مالي پوهه زموږ د ټولې پوهې هغه برخه ده چې د مالي ستونزو په حل کې ترې ګټه اخلو.

قرضداري، د موټر لګښت، د بیو د تطابق نشتون او عواید...

که مالي پوهه مو لوړه نه کړه، وضعیت به مو ورځ تر بلې بد تره کېږي او اوضاع به وخیمه شي.

یو واقعیت دا دی چې پیسې زموږ د ژوند پر کیفیت باندې ډېر زیات اغېز لري. پیسې مو اسوده کوي، د وخت او انتخاب ازادي درکوي؛ خو له مالي پوهې پرته د پیسو ګټل هېڅ امکان نه لري.

ځینې داسې فکر کوي چې ډېرې پیسې د هر درد چاره او حللاره ده. په داسې حال کې چې ډېرې پیسې همدومره ډېرو مالي مسایلو ته اړتیا لري. دا یوازې مالي پوهه ده چې د اسودګۍ او شتمنتیا پر وخت خپلې مالي ستونزې یو پر بل پسې له مخې لرې کوي.

«ښه مې په یاد دي چې یو وخت مې د خپلو لګښتونو په اندازه عواید درلودل او هېڅ پس انداز مې نه درلود، خو ژوند مې ډېر ارام و. څه موده وروسته مې یو ځای کار کړی و، ډېرې پیسې مې لاس ته راغلې، خو خوب او ارام یې را څخه واخیست. ولې!؟ ځکه باید پرېکړه مې کړې وای چې پر هغو پیسو باندې چېرته پانګونه وکړم، څو ارزښت یې کم نه شي او وکولای شي نورې پیسې راته وګټي. دغه څه د هغو کسانو لپاره چې پانګه لري، یو غټ سر درد وي».

سیاسیون: د افغان سولې لپاره د خلیلزاد تازه سفر د خلکو هیلې بیا ژوندۍ کړې دي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد کابل ته راغلی او له طالبانو سره د خبرو د بیا پیلولو پر سر یې له افغان ولسمشر او سیاسیونو سره کتلي دي.

ځینو افغان سیاسیونو ویلي، خلیلزاد له دوی سره په لیدنه کې له طالبانو سره د سولې خبرو د بیا پیل امکانات ارزولي دي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي، د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او ولسمشر محمد اشرف غني تر منځ په خبرو کې د سولې لپاره د افغانستان د حکومت پر پلان خبرې شوې دي.



هغه ټینګار کړی چې دوی ته د سولې خپل پلان مهم دی او دا بهیر باید یوازې د افغان حکومت په مشرۍ وي.

صدیقي زیاته کړې چې په بیجبنګ کې د سولې لپاره د افغانانو د خپلمنځي خبرو له کنفرانس سره یې هوکړه کړې، خو لا هم دغه کنفرانس ته د دولتي پلاوي جزیات نه دي نهایي شوي.

په ورته وخت کې ځینو افغان سیاسیونو چې له خلیلزاد سره یې په دغه سفر کې کتلي، ویلي چې نوموړي ورسره د سولې د خبرو د بیا پیلېدو په تړاو خبرې کړې دي.

د ملي محاذ ګوند مشر سید حامد ګیلاني بي بي سي ته ویلي چې د خلیلزاد له دریځه داسې ورته ښکارېده، چې د سولې د خبرو بیا پیل ته لېوالتیا ډېره شوې ده. بلخوا په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر هم ویلي چې له امریکا سره د خبرو بیا پیلولو او په تېرو پړاوونو کې د نهایي شوي تړون لاسلیکولو ته چمتو دي.

دا په داسې حال کې ده چې له ولسمشریزو ټاکنو وړاندې، ارګ اعلان وکړ چې د ټاکنو تر پایه یې د سولې هر ډول خبرې درولې او دوی ویلي وو چې نوی ولسمشر او حکومت به یې د سولې خبرې پیلوي.

خوستیان: په خوست کې د جوړېدونکي باچا خان پوهنتون کارونه لاهم نه دي پیل شوي

د خوست اوسېدونکي او مدني فعالان وایي چې په دغه ولایت کې د باچا خان نړیوال پوهنتون جوړولو خبره څو کاله مخکې شوې وه، خو تر اوسه یې هېڅ کار نه دی پیل شوی او کارونه یې له ځنډ سره مخ دي.

د دغه پوهنتون د کارونو لپاره جوړ شوی کمېسیون وایي چې تر ډېره بریده یې لومړني کارونه تر سره شوي او ډېر ژر به یې پاتې کارونه هم پیل شي.

د دغه پوهنتون جوړولو خبرې څلور کاله پخوا کېدې، خو ولسمشر اشرف غني د ۱۳۹۷ لمریز کال د لړم په درېیمه د یاد پوهنتون لپاره د مالیې د سرپرست وزیر



همایون قیومي په مشرۍ، د یوه کمېسیون جوړولو حکم وکړ. په حکم کې راغلي وو چې د کمېسیون غړي دې خوست ولایت ته سفر وکړي او په دوو کلونو کې دې د پوهنتون د چارو د بشپړولو په اړه خپل راپور ولسمشرۍ ماڼۍ ته وړاندې کړي.

خو اوس د خوست خلک وایي، شاوخوا دری کاله کېږي چې مرکزي حکومت په خوست کې د باچاخان نړیوال پوهنتون جوړولو خبره کوي، خو تر دې دمه په عمل کې هېڅ هم نه دي شوي.

د دغه ولایت یوه اوسېدونکي محمد اشرف پژواک خبري اژانس ته ویلي چې ولسمشر او پلویانو یې د باچا خان پوهنتون له نومه یوازې د کمپاین لپاره ګټه واخیسته.

نوموړي ویلي، که دوی رښتیا د پوهنتون جوړولو پلان درلودای، نو د تېرو دوو کلونو په ترڅ کې به یې که نور څه نه وای کړي، ځای خو به یې ورته مشخص کړی و.

د زبیر احمد په نوم د دغه ولایت یوه بل اوسېدونکي هم پژواک ته ویلي چې تر اوسه په عمل کې د یاد پوهنتون په اړه هېڅ هم نه دي شوي.

نوموړي زیاته کړې، ښه دا ده چې د باچا خان پوهنتون پر ځای د خوست شیخ زاید پوهنتون پر معیاري کېدو باندې کار وشي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۸ د لړم شپږمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۲۸مه | ۴۵۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۲۱ | ۲٤ | ۳۰ | ۲۲ | ۳۰ | ۲۱ |
| ▼ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۰ | ۱۸ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٥ | لمر ختل ۰٦:۰۸ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:٤۲ | ماښام ۰۵:۰٦ | ماخوستن ۰٦:۳۱


## نړۍ



# ټرمپ: ابوبکر البغدادي د امریکايي ځواکونو په عملیاتو کې وژل شوی دی

۲

## اردوغان: که کُردان تر ټاکلې نېټې له سیمې ونه وځي، سخت به و ځپل شي



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان خبرداری ورکړی، چې که کُرد ملېشه له هغه مهالوېش سره سمه چې له روسیې سره یې هوکړې وربانديې کړې، د سوریې له شمالي سیمو ونه وځي، سخته به وځپل شي.


اردوغان په استانبول کې د خبرو پر مهال د سوریې د کُردانو د وای پي جي ډلې په اړه ویلي: «که تروریستانو د ۱۵۰ ساعتونو په ترځ کې سیمه پاکه نه کړه، موږ به یې په خپله پاکه کړو او سخت به یې وځپو». دا په داسې حال کې ده چې نوموړي د اکتوبر په ۲۳مه په روسیه کې د دغه هېواد له ولسمشر ویلادیمیر پوتین سره وکتل او دواړو لورو هوکړه کړې چې مسکو به د سوریې له شمالي سیمو چې د ترکیې د پولې په ۳۲ کیلومترۍ کې پرتې دي، کُرد ملېشه جنګیالیو ته د وتلو زمینه برابره کړي.

دوی دغه راز وویل چې دا پلان به د را روانې سه شنبه ورځې د ماښام تر شپږو بجو پلی کېږي.

د ترکیې ولسمشر پر نړیوالې ټولنې هم غږ کړی چې د سوریې په شمال کې د امن سیمې په جوړولو کې مرسته وکړي. د یادونې ده چې ترکیه غواړي هغه دری میلیونه او ٦۰۰ زره کسان چې د سوریې له جګړې ورتښتېدلي، د سوریې په خاوره کې امن سیمې ته ستانه کړي.

ترکیه ادعا کوي چې په سوریه کې د کُردانو ملېشه ځواکونه ترهګر او په ترکیه کې د کُردانو د کارګر ګوند (پي کې کې) پر پله روان دي.

## په عراق کې د لاریونونو پر مهال د وژل شویو کسانو شمېر ۳٦ ته رسېدلی دی



د عراق په پلازمېنه، بغداد او نورو ښارونو کې بیا هم د اعتراض کوونکو او پولیسو ترمنځ د نښتو راپورونه خپاره شوي دي.

د راپورونو له مخې، له تېرې جمعې راهیسې د دغه هېواد په پلازمېنه بغداد او ځینو نورو ښارونو کې د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په نښتو کې ٦۳ تنه وژل شوي او په لسګونو نور ټپیان دي.

په عراق کې د بشري حقونو د کمېسیون مشر علي بیاتي ویلي چې ډېری مرګ ژوبله د بغداد په تحریر میدان کې اوښتې ده.

په ورته وخت کې د عراق په جنوب کې یوه حکومتي چارواکي ویلي چې اعتراض کوونکو د دغه هېواد د یوه قدرتمند ملېشه کس پر دفتر برید کړی او اور یې ور اچولی چې په هغه اور کې هم دوولس لاریونوال وژل شوي.

د یادونې ده چې د عراق په مختلفو ښارونو کې له یوې میاشتې راهیسې خلک د بېکارۍ، اداري فساد، د نرخونو د لوړوالي او د حکومت د بې پروایۍ پر ضد لاریونونه پیل کړي دي.

بلخوا د عراق ولسمشر برهام صالح د اکتوبر په اوومه په خپل هېواد کې د روانو لاریونونو په اړه په وینا کې ومنله، چې ستونزې یې ډېرې دي.

برهام صالح خپل ولس ته په ټلوېزیوني وینا کې وویل: «هو! د عراق د اقتصاد ملا د تروریزم او امنیت تر بوج لاندې ماته شوه، هو! د داعش پر ضد برى اسان نه و او د دغه هېواد د خلکو د ژوند او مالي سرچینو په بیه تمام شو، خو اداري او مالي فساد هم د دغه هېواد پرمختګ او امکانات کمزوري کړي دي».

## دو تبعهٔ خارجی افغانی الاصل، به اتهام پولشویی ۱.٦ میلیون دالر ناشی از قاچاق طلا محکوم به مجازات شده اند



دو تبعهٔ خارجی افغانی الاصل، به اتهام پولشویی ۱.٦ میلیون دالر ناشی از قاچاق بیش از ۴۱ کیلوگرام طلا از میدان هوایی بگرام، به چهار سال حبس و مصادرهٔ این طلا محکوم به مجازات شده اند.

به اساس معلومات سیگار یا اداره بازرس ویژه امریکا برای بازسای افغانستان، این اداره در ماه آگست سال ۲۰۱۷ در میدان هوایی بگرام، معلومات در مورد قاچاق ۴۱.۷ کیلوگرام طلا را که ارزش آن به ۱.٦ میلیون دالر امریکایی می رسد، به دست آورد.


بر بنیاد معلومات منبع، شخصی که این طلا را به دبی انتقال می داد، هیچ مدرک قانونی برای انتقال نزد او موجود نبود؛ اما سندی که نشان می داد وزن طلا ۴۱.۷ کیلوگرام است و ارزش آن ۱.٦ میلیون دالر است، نزد او موجود بود.

منبع نوشته است که سیگار، این طلا را نزد خود نگهداری کرد و تحقیقات نشان داد که انتقال این طلا عمل خلاف قانون است و شخص یاد شده، پوسته رسان یک مؤسسه افغانی است که پیش از این نیز طلا به دبی انتقال داده است و این مؤسسه، با شماری از کسانی که در امریکا زندگی می کنند، نیز رابطه دارد.

بر اساس معلومات لویه څارنوالی کشور، بشیر احمد صدیقی افغانی الاصل انگلیسی تبار فرزند نصیر احمد و محمد رفیع بها افغانی الاصل امریکایی تبار فرزند غلام بهاءالدین دکاندار در ساحهٔ نظامی میدان هوایی کابل، به اتهام تطهیر یک میلیون و ٦۰۰ هزار دالر امریکایی قیمت وزن مجموعی ۴۱.۳۷۵ کیلوگرام طلا، در تاریخ ۳۰ میزان سال ۱۳۹۸ خورشیدی، در مرکز عدلی و قضایی مبارزه با جرایم سنگین فساد اداری، مورد محاکمه قرار گرفتند.

## ژوند

### په تاسو کې د هېڅ شي کمښت نشته



کلونه وړاندې مې تل دا فکر کاوه، که مې یوه لویه ماڼۍ درلودی، که مو په کورنۍ کې له دې ډېر غړي وی، که مې کولای شوای له دې ښې خبرې وکړم، که مې تر دې ډېره تجربه درلودی، که مې... دا هغه بد حسونه وو چې د ځان په اړه مې لرل. که مې خپل فکرونه وای بدل کړي، ډاډه یم چې د ژوند بڼه به مې محدوده شوې وای.

یوه ورځ مې داسې کار وکړ چې اوس یې تاسې ته هم وایم:

د هغه فصل لپاره چې اوس پکې اوسم، څه ته چې پکې اړتیا ده، لرم یې. هغه قدرت او توانایی ته چې د نن ورځې لپاره ورته اړتیا ده، لرم یې. کېدای شي دغه قوت د سبا لپاره بسنه ونه کړي، خو ستونزه نشته، د اوس لپاره کفایت کوي. که سبا هم ورته اړتیا شي، زه ډاډه یم چې خدای پاک هغه وخت هم د اړتیا وړ قدرت راکوي. زه هغه وړتیا او تجربه لرم، چې نن ورته اړتیا لیدل کېږي. کېدای شي وړتیا مې د نورو خلکو په کچه نه وي، خو ستونزه نشته. زه له نورو سره سیالي نه کوم، زه له خپل ځان سره سیالي کوم، څو وکولای شم تر ټولو غوره کس شم.

### ډېر خواړه مه خورئ!



له کچې ډېر خواړه نه یوازې د غاښونو لپاره، بلکې د ځیګر لپاره هم زیان رسوونکې دي. ځیګر د فرکټوز په نوم خواړه پر غوړو بدلوي. کله چې ډېر تصفیه شوي خواړه او هغه شربت وخوړل شي چې په زیاته کچه فرکټوز لري، په ځیګر کې د زیاتو غوړو د تولید لامل کېږي، چې په پایله کې د ځیګر ناروغۍ زېږوي. وروستیو څېړنو ښودلې چې ډېر خواړه د هغو کسانو لپاره چې وزن یې کم هم وي، د الکولو په څېر زیان پېښولی شي. نو ځکه باید وشي چې له ډېرو هغو خوړو چې د خوړو کچه پکې لوړه وي، ډډه وشي. جوته خبره ده چې الکول په ټوله کې د روغتیا لپاره زیان رسوي، خو په ځانګړي ډول لومړی ځیګر له منځه وړي. د الکولو کارول مو په ډېرې اسانۍ سره د ځیګر پر ناروغۍ اخته کولی شي. که غواړئ چې روغتیا مو تضمین وي، بد عادتونه پرېږدئ او د ژوند کولو غیر سالمه تګلاره مو همدا نن بدله کړئ.